# په لوګرکې د (سولې پټکي) ترسرلیک لاندې غونډه جوړه شوه






د سلواغې ۲۴ مه:

په لوګر ولایت کې د( سولې د پټکي) ترسرلیک لاندې غونډه جوړه شوې وه، چې په کې د افغانستان د سرحدونو، قومونو او قبایلوچارو وزیر محمد ګلاب منګل، لوګروالي محمد حلیم فدایي، لوګرپخواني والي او په قومي چارو کې د ولسمشر سلاکارطاهرخان صبرى، د ولسمشر اقتصادي سلاکارعلي اکبر ژوندی، په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازی اکبر ستانکزی، دولایتي شورا رئیس سید قریب الله سادات او غړویې، امنیه قومندان مل پاسوال محمد داود احمدي، د ادارو مسؤلینو، قومي مشرانو، علماوو، ځوانانو او امنیتي ځواکونو برخه اخستې وه. د غونډې په پیل کې د لوګر د سرحدونو، قومونو او قبایلوچارو رئیس عبدالرحمن تسل چې نوی په خپله دنده ګمارل شوی دی، میلمنو ته ښه راغلاست او هرکلي تر څنګ خپله راتلونکي برنامه تشریح کړه.

ورپسې د لوګروالي محمد حلیم فدایي د افغانانو په مهم دود چې پټکی دی خبرې وکړې او زیاته یې کړه، د معاصر افغانستان بنسټګر احمد شاه بابا د جرګو او پټکیو د خاوندانو پر مټ د افغانستان بنسټ ایښی، نوله همدې امله مو د سولې پټکي تر سرلیک لاندې غونډه جوړه کړې ده، هر کله چې جرګې او د دستار څښتنان د یوه نظام بنسټ ایښودلای شي خپل هېواد او سیمو ته سوله هم را وستلای شي او د افغانستان د اساسي قانون بنسټ هم د دستار خلکو ایښې دی، والي فساد او فاسدین، د ځمکو مافیا، د مخدره توکو مافیا او له مهمو ملي مسایلو سره سیاسي چلند وښودل او د سولې پروړاندې د داخلي ګواښونو په توګه یاد کړ، هغه وویل چې متاسفانه اوسمهال د رښتینو مخورو او د دستار خلکو ځای جعلي او تقلبي مشرانو نیولی، نوموړي د یادو ګواښونو د حل په اړه وویل چې اصیل مشران، متنفذین او مخور باید د ولسي تړونونو له لارې د خپل کور او کلي څخه د سولې د راتګ لپاره ګامونه واخلي.

والي د خپلو خبرو په دوام د امنیتي ځواکونو څخه مننه وکړه او و یې ویل چې زمونږ هر عسکر د سولې عسکر دی، که څوک غواړی د سولې په اهمیت ځان پوه کړي باید د یو سرباز څخه یې پوښتنه وکړي.

د سرحدونو، قومونو او قبایلوچارو وزیر محمد ګلاب منګل دغونډې برخه والو ته وویل: لوګر باب العلم دی ځکه دلته ډیرنامتو اشخاص تیر شویدي، ګلاب منګل وویل: هیڅکله په ټوپک سوله نشې راتلای ترڅو چې سوله زمونږ په زړونو کې ځای ونه نیسي او هغه سوله چې د ولس په مټو راشي هغه بیا تلپاتې سوله ده. منګل د ولس څخه هم غوښتنه وکړه چې باید د خپلو امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړي د سولې دشورا رئیس مولوي اسدالله حنیف وویل: د اعتقادي اړخه سوله اړتیا نه بلکه د الله امر دی. نوموړي وویل چې څوک د الله امر او د قرآن آیتونه نه مني کافر دی او دا د هر شخص دیني وجیبه ده چې د الله امر پر ځای کړي.

همدا راز د ولسي جرګې وکیل اکبر ستانکزي او د ولایتي شورا رئیس سید قریب الله سادات هم د سولې په اهمیت خبرې وکړې او سوله یې یوازې د دولت کار نه بلکې د وکیل، ملا، معلم،دهقان، ملک، محصل او د ټولنې د هروګړي کار وباله.د غونډې په وروستۍ برخه کې میلمنو ته د سولې پټکی ور پر سر شول او همدرانګه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت او لوګر ولایت مقام له لورې د امنیتي ځواکونو او ملکي ادارو یو شمېر مسؤلین او کارکوونکي په دوهمه او دریمه درجه تقدیر نامو او ستاینلیکونو ونازول شول. غونډه په افغانستان کې د تل پاتې سولې په دعا یې سره پای ته ورسیده.

## به دوصدوبیست فامیل بی بضاعت کمک صورت گرفت

بنیاد بیات به تاریخ 15 ماه دلودرولایت لوگر با ۲۲۰ فامیل بی بضاعت درحالی مساعدت کرد که برخی باشنده گان این ولایت با بیکاری وفقردست وپنجه نرم میکند.

بیناد بیات به۲۲۰ فامیل بی بضاعت واطفال بی سرپرست درولایت لوگر مواد خوراکی توزیع نمود.

حاجی اسماعیل معاون بنیاد خیریه بیات درصحبت با آژانس باخترگفت:این کمک ها شامل یک بوری آرد ۲۵ کیلویی،۱۲ کیلو مکرونی،برای جلوگیری از سوی تغذی ۱۴ کیلو گرام شیر،دو دانه کمپل ویک بکسه مکتب شامل میباشد که بالای ۲۲۰ فامیل بی بضاعت واطفال یتیم درولایت لوگر توزیع گردید.

محمد حلیم فدایی والی لوگرضمن اظهار امتنان وقدردانی از کمک های همیشگی بیناد خیریه بیات علاوه کرد که با سرمای زمستان سطح بیکاری در لوگر بلند رفته ومردم با مشکلات اقتصادی روبرو اندهمچنان والی لوگر توزیع همچو کمک ها را از سوی تاجران ملی وبیناد های خیریه در شرایط کنونی نهایت مهم وارزنده عنوان نمود وازموسسات کمک کننده خواست که مساعدت های بیشتربا فامیل های بی بضاعت نمایند.

از سوی دیگر عزت الله یک تن از مستفید شده گان این کمک به آژانس باختر گفت: ما از خیر اندیشی بیناد خیریه بیات تشکری میکنیم وی این کمک ها را بسنده نه خواند وافزود که بلند رفتن سطح بیکاری در لوگر نهایت باشنده گان این ولایت را رنج میدهد ودولت باید در حصه اشتغال زایی توجه جدی نماید. باختر

## دازرې او سیدونکو ؛پوهنې ته ۲۲ جریبه ځمکه ورکړه

د سلواغې ۲۴ مه:

د لوګرولایت د ازرې ولسوالۍ یو شمیر قومي مخورواوخیر رسوونکو ولسي وګړو دوه ویشت جریبه ځمکه د ښوونځیو د جوړیدو لپاره ورکړه.

د لوګرد پوهنې ریاست ویاند محمد شاپورعرب په استولي خبرپاڼه چې دجریدې مدیریت ته رالیږلي په کې ویل شوي، چې د نوموړې ولسوالۍ قومي مخورو دغه ځمکې دکرنې،چوترې،امانخیلو،بابرواوکڅ ښوونځیواود عزیزالمدارس، حضرت عمراو حضرت یحیی دیني مدرسو او د ښوونکو د روزنې الحاقیې ته وقف کړې دي، داپه داسې حال کې دغه ځمکه پوهنې ته وقف کړه، چې تیره اوونی یې له پوهنې سره د هرډول مرستو ژمنه کړې وه.

خبرپاڼه زیاته وي، چې په دې ځمکو کې به په راتلونکي کلونو کې د یاد شویو ښوونځیو، دیني مدرسو او د ښوونکو د روزنې الحاقیې لپاره ودانۍ جوړې شي.

دخبرپاڼې په حواله ویل شوي، چې په لوګر کې د روان کال له پیل راهیسې تراوسه د یوې میرمنې په ګډون ۲۴ قومي مخورو او اوسیدونکوخپلې ځمکې د ښوونځیو د جوړیدو لپاره پوهنې ته ډالۍ کړې دي.

داپه داسې حال کې ده، چې تیره اونۍ هم په محمدآغې ولسوالۍ کې درې تنو دثابت کوچی لومړنی ښوونځی ته دونیم جریبه خمکه ورکړې وه.

## اعلامیه اداره ملی حفاظت محیط زیست به مناسبت برنامه نهال شانی واهمیت آن

درخت ازگرانبهاترین آفریننده های خداوند دانا برای انسان ویکی از زیباترین مظاهرخلقت وجلوه ای از تجلیات آفریدگارعالم است وبه دلیل نقش حیاتی که در زندگی تمامی موجودات زنده به خصوص انسانهادارامی باشد دراسلام موردتوجه خاص قرارگرفته است. پیامبر(ص)فرموده است: اگرقیامت برپاگردد ودر دست یکی ازشما نهالی باشد، اگرمی تواندآن را قبل ازاین که قیامت قایم شود، غرص کنید.

نهال شانی یکی ازسنت های کهن مردم ما به شمارمیرودکه همه ساله به منظور سرسبزی شهرها نهال شانی صورت میگیرد. تک تک افرادجامعه بخاطر مسؤلیت که درقبال شهر ومحل بودوباش خویش دارند درامر پیشبرد این پروسه سهم میگیرند ونهال می نشانند وازآن حفاظت می نمایند. به سلسله ادامه برنامه نهال شانی وبه منظوربهبود وضعیت محیط زیست کشور اداره ملی حفاظت محیط زیست امسال شعار(سرسبزی طبیعت -اجرآخرت) را انتخاب نموده است وازهمه هموطنان عزیزخویش احترامانه تقاضا می نماید تا درسال جاری نیزمتحداً درزیبای طبیعت کمرهمت بربندند محیط زیست وماحول خویش راسرسبزسازندوچهره زیبای طبیعت کشور را زیباتر، پرطراوت وشاداب ترسازند. امیدواریم مردم ما دین ایمانی وملی خویش را درین مامول ادانمایند.

اداره ملی حفاظت محیط زیست


## آگاهی

به اطلاع تمام مردم شریف ولایت لوگرسانیده میشودکه درین اواخرتبلیغات ازسوی بعضی شرکت ها واشخاص غیر مسؤل در رابطه به اینکه کشور عربستان سعودی تعداد 25000 کارگرافغانی را بکاراستخدام می کنند صورت میگیرد. به اساس مکتوب شماره 3844 / 319 مورخ 27 / 10 / 1394 معینیت اموركاروزارت کارامورا جتماعی شهداومعلولین که به این ولایت مواصلت ورزیده است چنین تذکراست: تااکنون ازجانب حکومت در رابطه کدام توافق نامه باهیچ کشورصورت نگرفته، موضوع غرض آگاهی به سمع تمام مردم اخبار شد، شهروندان عزیز پیرامون موضوع اگاه وهوشیار باشیند. نوت: درصورت اطلاع ومشاهده همچون قضیه به شماره های ذیل درتماس شوید. 0202107127 / 0202106912


## د لوګرد پوهنې ریاست راتلونکي کال کې ۳۳ زره نوي زده کوونکي جذبوي

دلوګردپوهنې ریاست دمطبوعاتي خبرپاڼې له حواله ویل شویدي؛ چې د پوهنې ریاست د خپل عملیاتي پلان له مخې؛ په را تلونکي نوي ښوونیزکال کې شاوخوا ۳۳ زره نوي زده کوونکي جذبوي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دغه نوي زده کوونکي دعمومي،اسلامي،دتخنیکي او مسلکي،د ښوونکود روزنې اودلیک لوست په ۳۰۵ بابه ښوونیز مرکزونو کې جذب کړي.

خبرپاڼه زیاته وي، چې د دغو زده کوونکو له ډلې ۲۰۴۰۰تنه د عمومي، ۷۳۴ تنه د اسلامي،۱۰۸۰ تنه د تخنیکي اومسلکي، ۸۷۰ تنه د ښوونکو د روزنې او ۹۹۱۲ تنه نور په لیک لوست کې ترزده کړولاندې به ونیول شي. همدارنګه په خپرپاڼه کې ویل شوي، چې دلوګرپوهنې ریاست به په را روان کال کې به ۱۵ نوي ښوونځي تاسیس ۱۰ لومړني ښوونځي به منځني ښوونځیو ته او ۸ منځني ښوونځي به ثانوي (لېسو ) ته لوړکړل شي. دویلو وړ ده، چې اوس مهال د مرکز او ولسوالیو په ټولو ښوونځیو کې د نویو زده کوونکو د نوم لیکنې پروسه پیل شوې ده او د راتلونکي نوي ښوونیز کال تر پیله به دوام وکړي.


Logar لوګر

دامتیازخاوند : دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست

مسئول مدیر: شیر محمد امیني «ستانکزی»

داړیکې شمیرې : ۰۷۴۴۴۲٦۴۲۸ /۰۷۰۷۲۴۴۲۲۸

کتنپلاوي : محمدشفیق «پوپل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطانی»

محمدموسی " عدیل" دباختر داطلاعتي آژانس خبریال

کمپوز او ډیزاین : ش . امیني «ستانکزی»

برېښنالیک : shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای : سهرمطبعه کابل افغانستان